د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

جمعه، 25 صفر، ۱۴۴۶هـ | 2024/08/30م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/7

مطبوعاتي اعلاميه

**له افغانستان څخه د امریکا د وتلو درې کلنې؛ که څيرک و نه اوسو هغه امريکا چې له دروازې ووتله، له کړکۍ بېرته راګرځي!**

د ورې نهمه د امريکا د ماتې او له افغانستان څخه يې د وروستي سرتېري د تېښتې له درېيمې کليزې سره برابره ده. د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د افغانستان مبارزينو، دعوتګرانو او مجاهدينو ته د دغې لويې لاس ته راوړنې او مبارکې او تاريخي ورځې مبارکي وايي.

دا درېيم ځل دی چې د برېتانيا، شوروي او ورپسې د امريکا تر ماتې وروسته زموږ خاوره له نظامي اشغاله ازاده شوې او د خلافت د تأسيس لپاره زمينه برابره شوې ده. خو درېواړه ځله همغه ناکامې تجربې تکرار شوې او حکامو د خلافت د تأسيس پر ځای چې . ستره فريضه ده . ملي دولتونو او پراګماټيکو سياستونو ته مخه کړې ده. په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ**» *«مومن له يوه غار څخه دوه ځلې نه چيچل کېږي»* (متفق عليه)

په افغانستان او نورو اسلامي خاورو کې تاريخي تجربو ښودلې ده چې مسلمانان تل توانېدلي چې د اشغالګرو پر وړاندې په شجاعت او زړورتيا سره جهاد وکړي او پرې بريالي شي؛ خو د استعمار پر وړاندې په درېدو کې پاتې راغلي او مغلوب شوي دي. لکه څه ډول چې د امريکا نظامي اشغال د دروازې له لارې وشړل شو، خو اوس هڅه کوي چې د کړکيو له لارې بېرته افغانستان ته را وګرځي او دا خاوره بېرته په خپلو استعماري منګولو کې ونيسي.

سياسي استعمار په يو اړخيزو ترونونو کې د هېوادونو د راګيرولو له لارې، اقتصادي استعمار په مرستو پورې د تړاو او د نا دولتي او بشردوستانه سازمانونو د نفوذ له لارې او مالي استعمار د ډالر په څېر ارزونو او د بانکدارۍ استعماري سيستم پورې د تړاو له لارې عمل کوي. په دې منځ کې فکري او سياسي استعمار، د استعمار تر ټولو خطرناک ډول دی چې د ملي دولتونو، د ملي منافعو پر بنسټ ولاړو پاليسيو، اقتصاد محور او پراګماټيک سياستونو او د نړيوال سيکولر نظم په واسطه د رسميت پېژندنې له لارې مسلمانان د اسلامي مبدأ پر اساس له تفکر او سياستولۍ څخه راګرځوي او بېرته يې د استعمار غېږې ته غورځوي. امريکا او غرب هڅه کوي چې د سيمې هېوادونو له لارې د اقتصادي پروژو د پلي کولو او دغه راز د نړيوالو سازمانونو لکه: ملګرو ملتونو، د دغه سازمان فرعي بنسټونو لکه يوناما، OCHA, FAO، WFP، د اسيا پراختيايي بانک، نړيوال بانک او جنيواکال له لارې خپل سياسي، فکري او استخباراتي نفوذ په افغانستان کې بنسټيز کړي.

واقعي خپلواکي ته د رسېدو اساسي حللاره په داخلي سياست کې د اسلام بشپړ او هر اړخيز تطبيق او په بهرني سياست کې په ټولو برخو کې له دښمن سره هر اړخيزه مقابله ده. نو له تېرو ترخو تجربو بايد عبرت واخيستل شي او هيڅ اړخ ته د دې اجازه ور نه کړل شي چې د اسلام په بشپړ او هر اړخيز تطبيق کې د مسلمان حاکم اراده تر خپل اغېز لاندې راولي. د استعمارګرو د نفوذ پر وړاندې په مقابله کې د نړۍ له مسلمانانو او اسلامي ډلو سره نږدېوالی خورا اغېزناک او ټاکونکی رول لري. ځکه د امت له وحدت او خلافت له تأسيس پرته دغه ستره مبارزه اغېزناکې پايلې ته نه شي رسېدای.

په واقعيت کې دويم راشده خلافت دی چې امت له جغرافيوي زندان، په نړيوال نظم پورې له تړاو او د استعمار له نفوذ څخه خلاصوي. د نبوت پر منهج خلافت دی چې امت د پانګوالۍ له ظلم او کفر څخه د اسلامي عدالت لور ته هدايت کوي، د امت جګړې له دفاعي حالت څخه هجومي ته تبديلوي او د استعمارګرو د دروازو په ټکولو سره هغوی په خپلو خاورو کې اسلامي نظم ته تسليموي. دا چاره هغه وخت محقق کېدی شي چې د قدرت خاوندان پر الهي حللارو، د الله تعالی پر وعده او نصرت ايمان ولري او د خلافت د تأسيس په لاره کې جهد، صبر، توکل او تقوا ته غوره کړي، تر څو الله سبحانه و تعالی موږ د استعمار له ټولو دسيسو او نفوذ څخه خلاص کړي.

**وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ** (آل عمران، ۱۲۰)

*ژباړه: او که تاسو صبر وکړئ او تقوا غوره کړئ، د هغوی کيد او دسيسه به تاسو ته هيڅ زيان و نه رسوي، بېشکه الله پر هغه څه چې دوی يې کوي، احاطه کوونکی (بشپړ مسلط) دی.*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info